السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې - وحې پداسې حال کې - نازله شوه، چې هغه د څلوېښتو کالو و

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه فرمايي: په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې - وحې پداسې حال کې - نازله شوه، چې هغه د څلوېښتو کالو و، نو په مکه مکرمه کې دیارلس کاله پاتې شو، بیا ورته د هجرت کولو امر وشو، نو مدېنې ته یې هجرت وکړ، هلته لس کاله پاتې شو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو.

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما خبرورکوي چې: په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د څلوېښت کلنۍ په عمر کې وحی نازله شوه او په پیغمبرۍ ولیرل شو. نو د وحې له نازلېدو څخه وروسته دیارلس کاله په مکه مکرمه کې پاتې شو، بیا ورته مدېنې منورې ته د هجرت کولو امر وشو، هلته یې لس کاله ژوند وکړ، بیا د درې شپېته کالو په عمر وفات شو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65050

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee